# پاکستان

## د ناکامو ریاستونو فهرست کښې په لسم نمبر

لیک: احمد نور / ترجمه: عبدالله وردک

د دهشت ګردو د حملو او د بدترین معاشي حالاتو په ژور ګرداب کښې راګېر پاکستان د نړۍ د ناکامو ریاستونو په فهرست کښې په لسم نمبر دے، خو بیا هم پاکستان د ۲۰۰۸ء کال په مقابله کښې په ۲۰۰۹ء کال کښې یوه درجه ښۀ والے حاصل کړے دے او د نهم نمبر نه په لسم نمبر راغلے دے. دا خبر د امریکې د یوې با اثرې مجلې په کلنۍ رپورټ کښې چاپ شوے دے.

د امریکنۍ مجلې فارن پالیسي د جولائي- اګست ۲۰۰۹ په اشاعت کښې د امریکنې تهنک ټینک فنډ فار پیس په اشتراک سره د ناکامو ریاستونو پنځم کلنے رپورټ وړاندې کړے دے. په هغې کښې د نړۍ د ۷۷۱ هېوادونو د داخلي صورتحال د جائزې اخستو نه پس یو فهرست جاري کړے شوے دے. د فهرست مطابق ۳۸ ملکونه ناکام ښودل شوي دي، ۹۳ ملکونو ته خبردارے ورکړے شوے دے، ۳۳ ریاستونه معتدل حساب کړے شوي دي. ۱۳ ملکونه د نړۍ د مستحکم ترینو هېوادونو په فهرست کښې شامل کړے شوي دي.

د رپورټ مطابق پاکستان اوس د صومالیه، سوډان او افغانستان په شان ملکونو په فهرست کښې شامل دے. په رساله کښې وئیلي شوي دي چې د معاشي بدحالۍ او د دهشت ګردۍ له وجې پاکستان اوس د آئي ایم ایف تر سپورې لاندې ژوندے دے. پاکستان په ۲۰۰۸ء کښې د ناکامو ریاستونو په نهم نمبر کښې ؤ، خو د معمولي ښۀ والي له وجې اوس په ۲۰۰۹ء کال کښې لسم پوزیشن ته راغلے دے. څرګنده دې وي چې تر ۲۰۰۵ء کاله پورې پاکستان د نړۍ د وړومبنیو شلو ناکامو ریاستونو په قطار کښې نۀ ؤ.

وړومبني شل ملکونه په فهرست کښې ناکام ترینه ښودلي شوي دي. صومالیه په وړومبني او مشرقي تیمور د دې ناکام ترینو هېوادونو په شلم نمبر دے. د دې وړومبنیو شلو هېوادونو په حقله وئیل کېږي چې دا ملکونه د یوې لویې حادثې په رامنځته کېدو سره ټوټې ټوټې کېدے شي. د پاکستان نه علاوه عراق، افغانستان، شمالي کوریا، بنګله دېش او ځینې نور افریقي هېوادونه د دغې تشویشناکو ریاستونو له جملې څخه دي. دا خبره د یادونې وړ ده چې په دغې وړومبنیو شلو ملکونو کښې پاکستان او شمالي کوریا د اېټمي صلاحیت لرونکي هېوادونه دي.

په رپورټ کښې د ابادۍ زیاتولے، په ملک دننه نقل مکاني، د ګروپونو په مېنځ کښې شخړې،

د خپل وطن پرېښودل او نورو ځايونو ته تېښته، د ترقۍ ناهمواره شرح، معاشي بد حالي، د حکومتونو د عملدارۍ نۀ موجوديت، د عوامي خدمت کموالے، بشري حقوق، وېشلي شوې اشرافيه، داخلي سلامتي، فرقه واريت او د نورو بهرنيو مداخلت د يو کمزوري رياست نخښې نخښانې ښودلې شوې دي. د نړۍ ټاپ ټين يعنې ورومبني لس ناکام رياستونه بالترتيب صوماليه، زمبابوې، سوډان، چاډ، ډيموکريټک ري پبلک آف کانګو، عراق، افغانستان، سنټرل افريقن ري پبلک، ګني او پاکستان دي.

د ۱۷۷ هېوادونو له جملې نه ايران ۳۸، چين ۵۷، اسرائيل ۵۸ او هندوستان په ۸۷ نمبر دے.

ناروې، فن لېنډ، سوېډن، سوئټزرلېنډ، آئرلېنډ، ډنمارک، نيوزي لېنډ، آسټريليا او نېدر لېنډز د نړۍ د مستحکم او مضبوط ترينو هېوادونو له جملې څخه دي. دا ملکونه د امريکنۍ رسالې مطابق کامياب ترين هېوادونه دي او دا وخت د دوي د ناکامېدو هيڅ امکان نۀ ليدلے کېږي.

د فارن پاليسي د جريدې مطابق دا نتيجې نړيوال ذرائع ابلاغ کښې د نشر شويو رپورټونو نه اخستې شوې دي. رسالې دا هم څرګنده کړې ده چې د ناکامو رياستونو په فهرست کښې د ټولو سوالونو جوابونه نۀ شي ورکولے او نۀ رساله د دې دعوې داره ده. دا رپورټ د هغې بحث آغاز دے چې د کوم هېواد د ناکامه کېدو په وجوهاتو او د هغې په حل کولو تبصره وشي.

رپورټ زياتوي چې د پاکستان د مخکښې نه خراب صورتحال په تېر يو نيم کال کښې لا خراب شوے دے. رپورټ دا هم وائي چې د پاکستان غېر استحکام په دسمبر ۲۰۰۷ء کښې هغه وخت پېدا شو چې کله د پاکستان پخوانۍ وزير اعظمه بېنظير بوټو قتل کړې شوه، ځکه چې د بېنظير بوټو د قتل نه وروستو په پاکستان کښې د ليډرشپ فقدان پېدا شو. د دې نه وروستو چې کوم حکومت په پاکستان کښې اقتدار تر لاسه کړو هغه د ډېرو بحرانونو په مېنځ کښې راګېر شو. په ۲۰۰۸ء کال کښې چې د اسلام اباد په مېريټ هوټل حمله وشوه نو دارالحکومت څو ورځې بند ؤ، د دې وجې نه غېر ملکي کاروباريانو خپل سامان راټول کړو او د وتلو هڅې ئې شروع کړې. د عالمي بحران زور هم شو، نو په ۲۰۰۸ء کال د آئي ايم ايف نه د مرستې اپيل وکړے شو.

> امريکني تهنک ټينک او د فارن پاليسي د مېګزين رپورټ يو خوا، کۀ د پاکستان خلقو ته وکتل شي نو دا خبره به څرګنده شي چې دا خلق ډېر مړني او ذهين دي، د څۀ صدمې يا کمزورۍ نه د زر راوتو صلاحيت لري. دا خلق د سخت نه د سختو حالاتو مقابله کولے شي خو په دې شرط چې دوي ته د اعتماد وړ، محب وطن او مضبوط قيادت په لاس راشي.

رپورټ دا هم زياتوي چې په دغه دوران کښې د پاکستان په قبائلي سيمو کښې او د حکومت د عملدارۍ لاندې نورو سيمو کښې القاعده او طالبانو خپلې پښې مضبوطې کړې. هم دا شان په

اګست ۲۰۰۸ء امریکې د دهشت ګردو په پناه ځایونو ډرون حملې شروع کړې چې په دې سخت تنقید شروع شو، ځکه چې په دې کښې د عامو بې ګناه خلقو ځانونو ته نقصان رسېدو. هم دا شان په نومبر ۲۰۰۸ء کښې په پاکستان د هندوستان د ممبۍ حملو الزام ولګېدو چې په نتیجه کښې پاکستان خپل فوځیان د هندوستان سرحدونو ته ولېږل. رپورټ وائي چې دا صورتحال په ۲۰۰۹ء کال کښې نور هم ډېر خراب شو ځکه چې په سوات او ورسره تړلې سیمو کښې فوځ د شدت پسندو خلاف اپرېشن شروع کړو چې په نتیجه کښې ئې ۳۰ لکه خلق په خپل ملک کښې بې کوره شول.

رپورټ وائي چې هغې ملکونه چې د خراب معاشي حالت، قدرتي آفتونو او د ماتو ګوډو ادارو ښکار شوي دي دوي ته د هوش او هوښیارتیا ضرورت دے.

د یادونې خبره ده چې رچرډ هالبروک چې د پاکستان او افغانستان دپاره د امریکې خصوصي نمائنده دے په ٦ مۍ د پاکستان د دورې په وخت ووئیل چې" د جغرافیائي او سیاسي اړخه پاکستان د امریکې دپاره ډېر اهمیت وړ دے"، هغوي زیاته کړه چې "مونږ فکر نۀ کوو چې پاکستان یو ناکام ریاست دے" هالبروک دا هم ووئیل چې امریکني قانون جوړونکي دې په دې وپوهېږي چې پاکستان په سماجي، سیاسي او معاشي مشکلو حالاتو کښې ګېر دے نو په دې وخت کښې پاکستان ته یو ناکام ریاست وئیل به سمه خبره نۀ وي".

نوموړے امریکن دانشور نوم چومسکي په خپل کتاب (Democracy Abuse of Power and Assault on Failed States:) کښې د هغې خبرې ذکر کوي چې په دې رپورټ کښې ئې ذکر نشته. نوم چومسکي لیکلي دي چې امریکه په خپله "یو ناکام ریاست" جوړېدو خوا ته روان دے چې د امریکې د خلقو او نړۍ دپاره یوه غټه خطره جوړه شوې ده. نوم چومسکي په امریکه کښې د ټولو نه د ښې یونیورسټۍ ایم آئي ټي د لسانیاتو پروفېسر او د امریکې په خارجه پالیسۍ تنقید کوونکے دے. نیویارک ټائمز چې د امریکې د معتبرو اخبارونو څخه دے، نوم چومسکي د دورِ حاضر د اهمو دانشورانو له جملې څخه ګڼي. نوم چومسکي په امریکه دا تور لګوي چې د سارۀ جنګ نه وروستو د امریکې خارجي او فوځي پالیسۍ د اېټمي جنګ خطرې ته پُوکے ورکړے دے. د دۀ په نظر "ناکام هېواد هغه دے چې خپلو خلقو ته د تحفظ په ورکولو کښې پاتې راشي، د ملک دننه او بهر د بشري حقونو خیال ونۀ ساتلے شي او یا د جمهوري ادارو په کارونو کښې خنډ جوړ شي". نوم چومسکي د دې څرګندونې په بنیاد امریکه د نړۍ د ناکامو ریاستو له جملې څخه شماري.

امریکني تهنک ټینک او د فارن پالیسي د مېګزین رپورټ یو خوا، کۀ د پاکستان خلقو ته وکتل شي نو دا خبره به څرګنده شي چې دا خلق ډېر مړني او ذهین دي، د څۀ صدمې یا کمزورۍ نه د زر راوتو صلاحیت لري. دا خلق د سخت نه د سختو حالاتو مقابله کولے شي خو په دې شرط چې دوي ته د اعتماد وړ، محب وطن او مضبوط قیادت په لاس راشي.

د دې حالاتو نه په وتو د پاکستان خلق د شدت پسندو د ختمېدو دپاره د حکومت او فوځ سره

همغږي او بغېر د څۀ ويرې اوږه په اوږه ولاړ دي. دا خبره يقيني ده چې د طاقت اصل سرچشمه همېشه د پاره عوام پاتې شوي دي.